# شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۲٤٥ ګڼه / دوشنبه ۰٦ صفرالمظفر ۱٤٤٥ هـ.ق / ۳۰ اسد ۱٤۰۲ هـ.ش / ۲۱ آګست ۲۰۲۳ میلادي


## د برېښنا پر تولید د پانګونې هوکړه لیک لاس لیک شو

د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست ملا عبداللطیف منصور پرون د اس. کا. ام هواسلیک انونیوم شرکت د مدیره پلاوي له رئیس دوکتور عباس رسول زاده فرساد سره له بېلابېلو سرچینو څخه د برېښنا د تولید، لېږد او وېش په برخه کې د پانګونې په موخه د دوه اړخیزې همکارۍ هوکړه لیک لاسلیک کړ.

د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست وزیر د یاد هوکړه لیک د لاسلیکولو پر مهال په افغانستان کې د اوبو او انرژۍ پروژو په برخه کې د دغه شرکت د پانګونې له لېوالتیا څخه د هرکلي ترڅنګ، هغوی ته د پانګونې لپاره د زمینې د چمتوکولو په برخه کې د دغه وزارت د همکاریو په هکله ډاډ ورکړ.

په ورته مهال، د نوموړي شرکت مسؤلینو هم د افغانستان په ۳۴ ولایتونو کې د بېلابېلو پروژو په ځانګړې توګه د اوبو او انرژۍ پروژو د پلي کولو په برخه کې د پانګونې لپاره چمتووالی څرګند کړ.

# د اسلامي امارت اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه جوړه شوه



د ریاست‌الوزراء د اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه پرون په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه.

په یاده نوبتي ناسته کې د افغانستان د ملي پراختیا ستراتیژۍ پر جوړولو تر هر اړخیز بحث وروسته پرېکړه وشوه، چې د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت په مشرۍ او اقتصاد وزارت په سکرتریت دې د اقتصادي کمېسیون له غړیو وزارتونو او ادارو څخه یوه ګډه کمېټه جوړه او د ټولو دولتي ادارو کړنلارو او پلانونو ته په کتو دې د یادې ستراتیژۍ مسوده وروستۍ او د منظورۍ لپاره دې اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي.

د اقتصادي کمېسیون په یاده ناسته کې د ریاست الوزرا اقتصادي معاونیت استازي په ګډون د اوبو او انرژۍ وزارت په مشرۍ؛ کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ، کانونو او پټرولیم او مالیې وزارتونو څخه ګډې جوړې شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د کجکي بند اړوند د استملاک شویو ځمکو د چارو عملي کېدو، د پاتې ځمکو استملاک او د بند په کاسه کې د رسوباتو د پاکولو د امکاناتو ارزونې په موخه دې سیمې ته سفر وکړي او خپل راپور... ۷مخ

## د اطلاعاتو او کلتور وزارت په هېواد کې د ګرځندوی صنعت د ودې په موخه کړنلاره جوړوي




د اطلاعاتو او کلتور وزارت سرپرست ملا خیرالله خیرخواه ورمه ورځ پروان ولایت ته د سفر په ترځ کې د جبل السراج له تاریخي ماڼۍ څخه لیدنه وکړه.

خیرخواه د دغه سفر په ترڅ کې چې د پروان د اطلاعاتو او کلتور رئیس یې هم ملتیا کوله د دغه ولایت له والي مولوي عبیدالله امینزاده او یوشمېر مجاهدینو سره هم وکتل.

د اطلاعاتو او کلتور وزارت د دغه سفر موخه د پروان له تاریخي سیمو او ابداتو څخه کتنه ښودلې او ویلي یې دي، چې د ګرځندوی صنعت د هېوادونو په اقتصادي پراختیا کې مهم رول لوبوي.

خیرخواه د دغه سفر په ترڅ کې د پروان ځایي چارواکو... ۷مخ

## سرپرست وزارت امور داخله به ارزگان سفر کرد



خلیفه سراج الدین حقانی سرپرست وزارت امور داخله امروز در چارچوب سفرهای ولایتی خود، به ارزگان سفرکرد.

دفتر مطبوعاتی وزارت امورداخله با ارسال خبرنامه یی به آژانس باختر نگاشته است: سرپرست وزارت امورداخله در جریان این سفر قراراست با مسوولان ولایتی، شماری از مجاهدین، علما و بزرگان اقوام درباره مسایل مختلف بحث وگفتگو خواهد کرد و در موارد مختلف اقدامات لازم را راهنمایی خواهد کرد.

## سفر هیئتی اداره گمرکات ترانزیتی پاکستان به افغانستان

هیئتی از اداره گمرکات ترانزیتی پاکستان به منظور شرکت در نشست کمیته مرزی که به هدف بهبود ارتباط موثر برای اجرای تجارت برگزار می‌شود، به افغانستان سفر کرده است.




خبرگزاری آوا گزارش داده است که نشست کمیته مرزی به مدت دو هفته به منظور بهبود ارتباط مؤثر و هماهنگی برای اجرای تجارت دوجانبه و ترانزیت در دو طرف مرز برگزار می‌شود.

ارباب قیصر حمید، رئیس اداره گمرکات ترانزیتی پاکستان روز گذشته در بیانیه‌ای گفته که این هیئت ۱۵ نفره به ریاست اداره گمرکات ترانزیتی انجام شده است.

فضل هادی، رئیس... ص۷

دعامې روغتیاوزارت:

## په افغانستان کې ۴۲۵۸ روغتیايي مرکزونه شتون لري




د عامې روغتیاوزارت مسولین وایي: په تېر یو کال کې ۳۴۵ په ښاوخواروغتیايي مرکزونوارتقا اوجوړشوي اود۴۲۵۸ روغتیايي مرکزونه لرو چې خلکو ته خدمات وړاندې کوي.

د دعامې روغتیا وزارت د حکومت د رسنیو په مرکز کښې د تېر۱۴۰۱ هجري شمسي کال لاسته راوړنې اوفعالیتونو راپور د رسنیو په حضور کښې ملت ته وړاندې کړ.

په یاده غونډه کې د عامې روغتیا وزیرډاکټرقلندرعباد د دغه وزارت د مهمو فعالیتونو او لاسته راوړنو په اړه معلومات وړاندې کړاو ویې ویل، په تېرکال کښې په هیوادکې له ۳۸۹۰ خصوصي روغتیايي او عامه روغتیايي مرکزونو څخه ... ۷مخ

## انتقالاتو ته مناسبه لار او سوداګرو ته به آسانتیاوې برابرې شي

د افغانستان اوسپنې پټلۍ اداره وایي، چې تېره اوونۍ ( د زمري له ۲۰ـ ۲۶مې) نېټې د اوسپنې پټلۍ له لارې ۶۳ زره او ۱۵۹ مېټریک ټنه انتقالات شوي دي.

دغه اداري په یوه خبرپاڼه کې ویلي، چې تېره اوونۍ د حیرتانو بندر له لارې ۵۲ زره او ۳۹۲ مټریک ټنه، د آقینې بندر له لارې ۴ زره ۲۳۳ مټریک ټنه او دغه راز د تورغونډۍ بندر له لارې ۶ زره او ۵۳۴ مټریک ټنه انتقالات شوي، چې په ټولیزه توګه ۶۳ زره او ۱۵۹ مټریک ټنه انتقالات کېږي.

یادې ادارې زیاته کړې، چې هڅه کوي لا زیاتو انتقالاتو ته مناسبه زمینه برابره او سوداګرو ته اړینې آسانتیاوې برابرې کړي.

د یادونې وړ ده، چې یادې ادارې ورمه اوونۍ هم د افغانستان اوسپنې پټلۍ له لارې د نږدې ۸۷ زره ټنو د انتقالاتو خبر ورکړی و.




اوس د جګړې پرځای د هېواد د آبادۍ هڅې پیل شوې

۲ مخ

افغانانو ۱۰۴ کاله پخوا استقلال واخیست؛ خو نظام یې!؟

۳ مخ

د اسلام او دیموکراسی تضاد

۳ مخ


## سرمقاله

# افغانان دې د هېواد ودانولو ته ملا وتړي!

د ترلاسه شویو معلوماتو له مخې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ښاغلي ملا برادر په ترکیه کې له یو شمېر افغان پانګوالو سره په لیدنو کتنو کې پر هغوی ټینګار کړی،چې هېواد ته راستانه او د خپل جګړه ځپلي وطن د بیا ودانولو او رغولو لپاره په بشپړ اخلاص، جدیت او همت ملا وتړي او خپل تاریخي مسؤلیت په ښه ډول تر سره کړي. ځکه دا هېواد پر ټولو افغانانو خصوصاً هغو کسانو ډېر حق لري، څوک چې د نورو په نسبت زیاته اقتصادي یا مسلکي وړتیا لري همدوی باید وپوهېږي چې لروبرو دښمنانو یې هېواد ورته وران کړی، اغیاروته یې محتاج کړی او لایې هم نه پرېږدي چې د ژوند په بېلابېلو ډګرونو کې پر ځان بسیا او د پردیو له غلامۍ خلاص شي. بناءً اوس نو پرته له شکه هر افغان ته په کار ده چې څه ناڅه خو یې د ننګ، غیرت او سیالۍ احساسات راوپارېږي او خپلو ختیځو او لوېدیځو حریفانوته وښیي چې دا دی موږ ملا ترلې،لوړې، تندې، ستوماني او د بدنیتو او مغرضو جهتونو له بندیزونو را پیدا ناخوالې به زغمو او په سړه سینه او لوړ همت به خپل هېواد له نورو سیالانو سره په کتار کې دروو. حقیقت دادی چې د اوسني زماني ښکېلاک ګروته د خپلو اسلافو تاریخ په ډېره روښانه توګه معلوم دی. له همدې وجهې ډېر ښه کولی شي د خپلو مشرانو له تجربو ګټه واخلي، په ډېر مهارت سره تر اوړدو کلونو ... ۷مخ

وزارت کار و امور اجتماعی:

## بیش از ۵۰ هزار جواز کار درسطح کشور توزیع شده است

در برنامه حساب دهی دولت به ملت مسئولان کار واموراجتماعی هریک: ملا شرف الدین شرف؛ رئیس دفتر، مولوی رحیم الله صراح؛ رئیس تفتیش،مولوی حین احمد مدنی؛ رئیس عمومی قوای بشری، مولوی عبدالواحد فایز؛ رئیس مهارت، انکشاف وفنی وحرفوی مراکز آموزشی وتنظیم و سمیع الله ابراهیمی؛سخنگوی این وزارت در حضور نمایندگان رسانه ها فعالیت های عمده خویش را ارایه کردند.




وزارت کار و امور اجتماعی به عنوان یک نهاد سیاست گذار در چارچوب امارت اسلامی افغانستان... ص٤

## په نورستان کې زرګونو کسانو ته د کار زمینه برابره شوه

د هېواد په ختیځ نورستان کې د کرنې او خوړو نړیوالې ادارې له لورې ۷ زره ۴۴۰ کسانو ته د کار زمینه برابره شوې ده.د یاد ولایت د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رییس مولوي سلیمان ایمن د باختر آژانس سیمه ییز خبریال ته وویل، چې د یاد ولایت په کامدیش او برګمتال ولسوالیو کې د کرنې او خوړو نړیوالې ادارې په مالي ملاتړ ۵ میاشتنۍ پروژې پیل شوې دي. نوموړي زیاته کړه، چې په یادو ولسوالیو کې د ۵۳ حوضونو او یوشمېر چکډمونو په جوړېدو سره به سلګونه جریبه کرنیزه ځمکه خړوبه شي. ۷مخ

## اشتراک بازرگانان افغان در هفتمین نمایشگاه واردات و صادرات آسیای جنوبی - چین



اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری افغانستان می‌گوید که ۵۰ بازرگان افغان با رهبری هیئتی از این اتاق در هفتمین نمایش‌گاه واردات و صادرات آسیای جنوبی – چین شرکت کرده‌اند.

بر اساس گزارش ... ص۷

# اوس د جګړې پر ځای د هېـواد د آبـادۍ هڅـې پیـل شـوې

متین

ځرګنـــده ده چې هر هېواد ځانتـــه د ویاړنو ډکې ځانګړنې لري له دي کبله یې نمانځي چې نســـلونه یـــې تاریخي بریاوي هیری نه کړي او په لاس ورغلي لاس ته راوړني د یوه نســـل څخه بل نسل تـــه په میراث ورپریـــږي. همدا وجهه ده چـــې د هر هېواد وګړي په شـــاندارو مراســـمو خپل د ویاړنو ورځي نمانځـــي او په خپلو هلو ځلو او سربښـــندنو ویاړي. افغان مجاهـــد ولس د تاریخ په اوږدو کـــې د تیری کوونکو مســـتعمراتی کړیو له خوا ډېری تیری کوونکي هڅي له ســـره تیری کړی او د هر تیري کوونکی ځواک پـــه وړاندي یې د خپل ټاټو بی څخه په میړانه او سربښـــندنه دفاع کړي او غلیم ته یې شـــرمناکه ماتی ورکـــړی چې د تاریخ ذرینی پاڼی پری ګواهي ورکوي. ډیـــر زبرځواکونه په تمه ؤ چې د خپلو ګوداګیانو په وســـیله به تراوږد مهاله خپلی ناوړه او مســـتعمراتی ګټې خوندي وساتی خو افغان میړنی مجاهد اولس چې هیڅکله د پردیو ترجع لاندې ژوند ورته نامناسب ښکاري او د دي زغم نه لري چې د مستعمراتي واکمنانو واکمنی ومنی نو یې په تش لاس او الهـــی نصرت په زنګ وهلی توره د هېواد آزادي او خپلواکي ته متی رانغښتی او د سر په بدله یې د خپل هېواد آزادي او خپلواکۍ ترلاسه کړی ده.

نړیوالو ته جوته شـــوي چې پر افغانستان باندي تیري او د افغانانو خپلواکي ته زیان رســـول څه آســـانه کار نه دي ځکه هغوي چې کله هم زموږ په پاکه خاوره تیری کړی ورســـره جوخت د مجاهد او میړنی اولس د مقاومت او سربښـــندي ســـره مخامخ شوي نو ځکه تحلیل ګران افغانستان د تیري کوونکو ځواکونو هدیره ګڼي



او پوهیږي چې تیري کوونکی اشغالګر ځواکونه به تل د ماتي او تیښتی سره مخامخ وي.

ښه به وي چې لویې غوښـــتونکي هېوادونه تاریخي پاڼی په ژوره توګه ولولی او پر افغانســـتان باندي د مستعمراتي هېوادونو تیری کوونکی هڅی او ورسره سمی د هغوی ماتی او تیښتی ته پاملرنه وکړی ترڅو د هغو د جګړییزو ماتو څخه یې په پوره پیمانه درس او زده کړه واخلی.

خو مغرور اشغالګرو هېوادونو دا ځل د یوه نړیوال ائتلافی ځواک پـــه توګه زموږ په هېواد تیری وکړو او د یـــوه لاس پوځی رژیم په رامنځ ته کیدو ســـره یې خپلو ناوړه هڅـــو ته دوام ورکړو زموږ یو شـــمیر بې ګناه هېوادوال یې په شهادت ورســـول او یو شمیر یې د هېواد پریښـــودو تـــه اړ کړل. هغه یې کوله چـــې د خپلو ناوړه کړو وړو له لاري مجاهد ولس تـــر خپلي ولکي لاندي راولي او د هغـــوي ناوړه کړو وړوته لبیک ووایي. خـــو مجاهد او په هېواد میـــن اولس د تیر په څیـــر په ډېرو کمو امکاناتو د اشـــغالګرو په وړاندي د جهاد نـــاره خپره کړه او د هېواد په مختلفو ســـیمو کې د اشـــغالګرو ائتلافی ځواکونو په وړانـــدې د مجاهدینو لیکي یو په بل پسی پیاوړی او د اشـــغالګرو د راټولیدو پر ځایونو مرګوني بریدونه پیل شول. د نړي تماشګیرو به ویل چې د نړي د ائتلافی ځواکونو پـــه وړاندي د مجاهدینو جګړه به لاس ته وړنی ونه لري ځکه د نړی زبرځواکونه په ډېرو عصری وســـلو ســـمبال پوځونه درلودل او د اوســـنی عصري ټیکنالوژي په کارولو سره به افغان مجاهدیـــن ډیر ژر له منځه ولاړشـــي. د نړیوالو او په خاصه توګه د ائتلافی پوځي ځواکونو مشـــران خپلو پلانو کې ناکام پاتی شول ځکـــه چې د میړنـــی مجاهد اولس د ځان تیریدنـــی او هېوادنی مینـــی څخه یې پوره معلومات نـــه درلوده نو ځکه د هری ورځي په تیریدو ســـره د اوږد مهاله اشـــغال پلانونه د ماتي سره مخامخ کیـــدل او په پوځی ډګر کې یې د تلفاتو شـــمیر په زیاتیدو ؤ. منو چې د یوه نړیـــوال ځواک په مقابل کې په تـــش او کمو امکاناتو جګړه ستونزومنه او اوږدمهاله وی خو د خدای(ج) په مهربانی او نصرت سره د اســـلامي امارت مجاهدینو ته الله(ج) دومره قوت ور وباښـــخه چې په لږه موده کې پر اشـــغالګرو د بري لار هواره شوه او اشـــغالګر دي ته اړشول چې پرته د کومې لاس ته راوړني څخه هېواد پریږ دي.

هېوادوالـــو ولیدل چې اشـــغالګر ځواکونه په څومره شـــرمندګې زموږ له هېواده ووتل او خلکو ته یې څومره ستونزې راپاتی شوي چې اوس یې اســـلامي امارت په رغاونه بوخت دي. داده یو چې د اســـلامي امارت د دوه کلن مزل لاس تـــه راوړنی چې ترڅنګ یې زیاتی ســـتونزې شـــتون لري په راتلونکی کې څو چنده وي ځکه اقتصـــادي ناخوالو له پاره عملي متې رانغښـــتل شـــوي او هغه پروژې به پـــه کار ولویږي کومی چـــې د اقتصادي پیاوړتیا لامل ګرځي.د ۲۴ د اســـد د دویمی کلیـــزې د نمانځلو پر مهال د اســـلامي امارت د لوړ پـــوړو چارواکو څرګندونـــی را په ګوته کوي چې اوس د جګړو او اشـــغال دوره پای ته رســـیدلی هڅه کـــوو چې د هېواد د آبـــادي او هېوادوالو ته د ســـوکالي له پاره نه ستړی کوونکی هلی ځلي ونه سپمو ترڅو هېوادوال په روزګار او د پردیو د احتیاج څخه وژغورل شي.

# شورای عالی مقاومت و وضعیت اخلاقی آن‌ها

فضل‌الله‌نیازی

درباره کســـانی که به نرخ روز نان خوردند، فکر کرده‌اید؟ یا آن‌هایی که با کمونیســـت‌ها «کاپیتال» مارکس زیر بغل داشتند، روزگاری «نشانه‌های راه» سیدقطب می‌خواندند و مدتی با لیبرال‌ها نیک‌تایی رنگی زدند؟ به این اندیشده‌اید که چرا شـــماری از پاریس و لندن کـــه خود در عیش و عشرت زنده‌گی می‌کنند، مردم را به‌جنگ دعوت می‌کنند؟ یا به آن‌هایی که ســـابقه دشـــمنی با علم دارند و در جبهه جمهوریـــت پول معارف را دزدی کردند، اندیشـــیده‌اید؟ پاســـخ‌یابی به این پرســـش‌ها، خیلی مهم است؛ چون ما با پدیده‌ای مواجه هســـتیم که جامعه‌شناســـان آن را تیپ بی‌شـــرفی نامیده‌اند. آن‌ها که به هیچ‌چیـــز و به همه چیز باور دارند، روزگاری مجاهـــد بودند، زمانی لیبرال و بعد با صداهـــای مظلومانه از دیار فرار ادای ناسیونالیســـتی و وطن‌پرستی درمی‌آورند.

جورج زیمل جامعه‌شناس آلمانی-که در اوایل قرن بیستم چشـــم از جهان فروبست-از جمله جامعه شناسانی بود که به ساخت تیپ اجتماعی بسیار علاقه داشت. او در آثارش از تیپ خسیس، ولخرج، غریبه، ماجراجو و فقیر نوشت. در این نوشته کوتاه با تاثیر از میراث زیمل تلاش می‌شود تا تیپ اجتماعی ‹بی‌شرف› معرفی شود.

زیمل معتقد اســـت: تیـــپ اجتماعی بی‌شـــرف در همه عرصه‌های جامعه، از صدر تا ذیل آن، قابل شناسایی است و محدود به حرفه خاصی نیست و همان‌طور که از نام آن پیداست ‹بی‌شـــرفی› در کردار مهم‌ترین ویژگی آن است. در سیاســـت، در اقتصاد، در فرهنگ و در اجتماع می توان مصداق های بی شرفی را دید.

از دید او، یکی از شکاف‌های بزرگی که امروزه در جوامع عقب‌افتـــاده و دچاربحران خیلی عمیق اســـت، مرز میان شرافت و بی‌شرفی است. هرچند پدیده شرافت/بی‌شرفی انتزاعی و ذهنی است و عملیاتی کردن آن برای درک بهتر و کاربست در جامعه کمی دشوار به نظر می‌رسد، اما توضیح او درباره این مهم می‌تواند در افغانستان مصداق‌های بارز داشته باشـــد. معنای بی‌شرفی در این‌جا نه به‌عنوان معنای متعـــارف در جامعه، بلکـــه به معنای جامعه‌شـــناختی آن به‌عنوان یک تیپ اجتماعی به کار رفته است.

سیاست‌مدارانی که نان زنان بی‌سرپرست و یتیمان را دزدی کردند، تجارت‌پیشه‌های‌سیاسی که جنگ را برگزیده‌بودند خون‌وپوست و گوشت جامعه‌ای را مصادره کردند که ۹۰ درصد زیر خط فقر قرار داشتند، زنانی که برای برانگیختن ترحم، کودکان معصوم خود را داروی بیهوشـــی می‌دادند و در کنار خیابان‌ها می‌نشســـتند را وســـیله تبلیغ و جلب توجه کمک‌های بشردوستانه ساخته‌بودند، آن‌هایی که در لنـــدن و پاریس زنده‌گی می‌کردند و فرزندان‌شـــان آزادی و مکتب و آرامش داشـــتند اما در داخـــل پول بیت‌المال (بودجـــه تعلیم‌وتربیه کـــودکان افغانســـتان) را اختلاس کردند و امروزه کماکان مردم را به‌جنگ تشـــویق می‌کنند، این‌ها و ده‌ها نمونه دیگر از لحاظ تیپ‌شناســـی شخصیتی در زمـــره افراد دارای تیپ بی‌شـــرفی قـــرار می‌گیرند که وجدان‌شـــان حساســـیت کم‌تری دارد و تنهـــا به منفعت خود می‌اندیشـــند. یکی از بزرگ‌ترین ویژه‌گی‌های افراد بی‌شـــرف، خودمحوری و منفعت‌جویـــی بیش از حد در زنده‌گی اســـت. برای این تیپ شـــخصیتی، هیچ‌چیزی به اندازه منفعت ارزش ندارد.

بین ‹بی‌شرفی‌اولیه› و ‹بی‌شرفی‌ثانویه› باید تمایز قائل شد. هر فرد معمولی ممکن اســـت به ناچار یا به هر دلیلی در اوقاتی از زندگی‌اش بی‌شرفی بورزد. در اینجا ‹بی‌شرفی› می آید و می‌رود. موقّت و گذراست. در بی‌شرفی‌اولیه فرد هنوز می‌تواند بی‌شرفی خود را تشخیص دهد. او می‌داند که بی‌شرفی ناپسند اســـت و در خلوت خود از بی‌شرف بودن شرم‌گین اســـت و خودش را سرزنش می‌کند. ولی در بی‌شرفی ثانویه، ‹بی شـــرفی› بخشی از شخصیت فرد می‌شـــود. بی‌شرفی می‌آید، رســـوخ می‌کند و می‌ماند. در بی‌شرفی ثانویه مرز بین فرد و بی شرفی مشخص نیست. بی شـــرفی همان فرد و فرد همان بی‌شـــرفی می‌شود. در اینجا فرد با افتخار بی‌شـــرفی اش را فریاد می‌زند. در کل، بی‌شرفی به عنوان روش تبدیل به منش فرد می‌شود.

با این نگاه گذرا به پدیده بی‌شرفی، حالا به کردار و اعمال اقلیت بی‌شـــرف و مزدور(شورای‌عالی‌مقاومت) نگاه کنید یک عمر دروغ، فساد، اختلاس، تخریب، ویرانی و بربادی مملکت، چقدر از زندگی شرافت‌مندانه فاصله گرفته‌اند.

ما در روزگاری قرار گرفته‌ایم که اداره‌امورکشور فرمایشی نه بلکه توســـط فرزندان خودش پیـــش می‌رود. اما اقلیت بی‌شرفی که با زیست شـــرافت‌مندانه هم‌سویی ندارند یا به‌نفع‌شان نیســـت، دنبال جنگ‌افروزی، توطئه، تبلیغ‌سوء و معامله‌انـــد. شـــاید واصف‌باختری؛ این شـــاعر نامدار افغانستان، بی‌شرف‌ها را خوب‌تر شـــناخته بود. وقتی که می‌گوید: ‹به روســـپی‌های سیاســـی قرص ضد حامله‌گی بدهید که نسل بی‌شـــرفان افزایش پیدا نکند›. او پی برده بود که روســـپی‌های سیاســـی هیچ‌گاه از توطئه و تخریب دست برنمی‌دارند

# خدمات شاروالی کابل چشم‌گیر و ستودنیست

شیرمحمد استوار

پس از به قدرت رسیدن امارت اسلامی در کشور طی دو سال در عرصه‌های مختلف جامعه خدمات ارزنده‌یی در کشـــور صورت گرفته که از جمله خدمات شاروالی کابل را به گونه مثال به بررسی می‌گیریم.

قبل از حاکمیت امارت اســـلامی در کشـــور شـــهر کابل چهره دیگری داشـــت مردم با مشکلات عدیده‌یی دست و گریبان بودند گذشـــتن از یک گوشـــه شـــهر به گوشه دیگر به معنی گذشـــتن از خوان رســـتم بـــود جاده‌ها از سنگ دیوار شـــده بود راه‌بندان ساعت‌ها سد راه مردم و عابرین می‌شـــد و هزاران معضل دیگر وجود داشـــت که هم باعث بد چهره‌گی شـــهر و هم باعث ایجاد مشکلات برای همشهریان گردیده بود.

شـــاروالی کابل به غرض از میان برداشتن این مشکلات دســـت بـــه کار گردیـــد در قدم نخســـت جمـــع‌آوری دستفروشـــان از جاده‌های عمومـــی و جابجایی غرفه‌ها به غرض حلال مشـــکلات شهروندان و دست‌فروشان و هم‌چنـــان در نظر گرفتن جاهای مشـــخص برای صنوف دست‌فروشـــان قـــدم بهینه و نیکویی اســـت که هم نظم شـــهری را تأمین می‌کند و هم مشـــکلات دست‌فروشان و شـــهروندان را که در نواحی شـــهر ما شاهد چنین کار ستودنی و نیکو استیم.

برداشـــتن دیوارهای ســـنگی از جاده‌های عمومی که به نحوی ســـبب راه بندان در شـــهر گردیده بود و هم‌چنان تنظیـــم چهار راه‌هـــا و تزئین آنان با نشـــان‌های فرهنگی افغانی اسلامی و تاریخی کشور قدم دیگریست که رنگ شهر را زیبا و زیباتر گردانیده است.

جمع‌آوری معتادان با همکاری نهادهای ذیربط کار خوب است که از سوی شاروالی کابل به منصه اجرا قرار گرفت و بر زیبایی شـــهر افزوده شـــد در نقـــاط مختلف ایجاد پارک‌هـــای تفریحی بـــرای کـــودکان و خانواده‌ها تنظیم ترافیک شهر و اعمار و بازسازی جاهای فرهنگی همه و همه چهره شـــهر را تغییر داده است به غرض یک جامعه خوب و مرفه لازم اســـت هر شـــهروند خـــودرا عضو و کارمند شاروالی فکر کند و همکاری در حد توان و امکان با شاروالی داشـــته باشند؛ زیرا بدون همکاری شهروندان شاروالی کابل با امکانات دست داشته و پرسونل موجود نمی‌تواند به تمام نقاط شهر کابل رسیدگی نماید.

در نواحی مختلف از ســـوی شـــهروندان کار حشـــر راه اندازی گردد تا باشد یک شهر عاری از کثافات و امراض داشته باشیم.



# آزادی چیست؟

فضل‌الله‌نیازی

از آزادی سخنِ بسیار گفته و شنیده شده‌است. همه طالب آزادی هستیم. از کوچکترین نهاد تعریف شده یعنی خانواده تا بالاترین سطح که دولت باشد همه مطالبه آزادی داریم. برای کسب آزادی سعی کرده ایم، جهاد کرده‌ایم، مبارزه کرده ایم، خون داده‌ایم و انقلاب نموده ایم. ولی علت این همه مجاهدت در راه آزادی چیست؟ آیا بدست آوردن و رسیدن به حد اعلی آزادی می تواند طریق نیل به کمال را برای ما تسهیل نماید؟ اگر فرض را بر این بگذاریم که آزادی به معنای واقعی کلمه در طرفه العینی محقق شود برنامه‌ای برای پس از آن داریم؟ به واقع اگر برنامه‌ای مدون نداشته باشیم، پس بی شک کسب آزادی نه تنها دردی از ما دوا نخواهد کرد، بلکه بیش از پیش ما را در مرداب سردرگمی فروخواهد برد.

آزادی در ساده‌ترین شکل آن به معنی حریت، اختیار، استقلال، خلاف رقیت و بندگی و عبودیت و اسارت و اجبار. قدرت عمل و ترک عمل. قدرت انتخاب.

ای گروه مومنان شادی کنید
همچو سرو و سوسن آزادی کنید
آزادی اندر بی‌حاجتی است،
آزادی آرزوست مرا دیر سال‌هاست
تا کی ز بندگی، نه کم از سرو و سوسنم

**مترادف و متضاد آزادی و استقلال:**

خودمختار بودن. اداره‌کشور با اختیار و آزادی بدون مداخله کشورهای بیگانه.

ضابط امر خویش بودن. به‌خودی خود به کاری بر ایستادن.

آزادی داشتن، به آزادی کار کردن، آزادی دولت‌ها در اداره امور کشور، تصمیم‌گیری و قانون‌گذاری.

متضاد استقلال: وابستگی، رعیت، تبعیت، بندگی، اتکاء وو.،

**هگل در مورد آزادی میگوید:**

‹تاریخ جهان چیزی نیست مگر پیشرفت آگاهی از آزادی›. نگرش ها در مورد آزادی بسیار زیاد است و هر متفکری با توجه به اهمیت و ضرورتی که برای حق فطری تفکیک ناپذیر بشر- آزادی - قائل است، آنرا تعریف می کند. مثا جان‌لاک برای تعریف آزادی از حق به عنوان ایجاد کننده آزادی شروع میکند، درحالیکه چارلز منتسکیو بحث آزادی را از قدرت به عنوان مهم ترین خطر و تهدید برای آزادی آغاز می‌کند. فیخته، فیلسوف بزرگ ایدئالیست آلمان، معتقد است کسی که معنای درست و حقیقی ‹فلسفه› را درک کرده باشد، آنگاه خواهد دید که فلسفه در ذات خود چیزی نیست مگر ‹تحلیل مفهوم آزادی›.

مسئله آزادی، مسئله‌ای است که پیشینه آن به افلاطون و ارسطو میرسد. در یونان و روم باستان، تنها بالاترین رده های جامعه از آزادی بالایی برخوردار بودند.

حدود سال‌های ۵۰۰ قبل از میلاد مسیح اهالی آتن و چندین شهر از ایالت های یونان که حکومت‌های دموکراتیک داشتند. گروه اقلیتی از شهروندان می‌توانستند رای بدهند، اما زنان، بردگان و خارجی ها از چنین حقوقی برخوردار نبودند.

آغاز و پیدایش مفهوم آزادی را هر مکتب متعلق به‌خود می‌داند اما آزادی ریشه و پیشینه در اسلام عزیز دارد.

آزادی در اسلام عبارت است از شخصیت و ارزش ذاتی انسان که نمی‌تواند بنده هیچ‌کس غیر خدا باشد. و در حقیقت ریشه آزادی انسان توحید و معرفت و شناخت خداوند(ج) است. توحید به‌عنوان اساس آزادی در اسلام ، انواع و اقسام آزادی‌های تازه‌ی را برای انسان به بار می‌آورد. دیگر انسان آزاد در فرهنگ اسلامی نمی‌تواند و حق ندارد از غیر خدا اطاعت کند. بنابرین از منظر فقه اسلامی مفهوم آزادی محدود به مسایل سیاسی و اجتماعی نمی‌شود. بلکه دامنه‌ی آن بسی گسترده‌تر از آن است. آزادی واقعی آن است که انسان‌ها از قید و بند خرافات و اندیشه‌های خرافی نیز رهایی یابد.

مملکت ما طی سال‌های دور و گذشته فراز و نشیب‌های فراوانی را از سر گذرانده است. از اشغال توسط انگلیس‌ها در سال ۱۲۹۸ تا تجاوز به وسیله نیروهای ارتش سرخ و هجوم نظامی آمریکا و کشورهای هم‌پیمان ناتو. در هر دوره مردم مسلمان و باشهامت افغانستان قهرمانانه در برابر اشغال سینه‌سپر نموده متجاوزین را درس نابودی داده‌اند. آزادی و سربلندی به‌ارمغان آورده‌اند.

پس از آزادی و پیروزی(۲۴اسد؛ روز فروپاشی جمهوریت استبداد) اکنون ما تصمیم‌گیر، قانون‌گذار، با اراده، مختار و مستقل هستیم قدرت عمل و ترک عمل و قدرت انتخاب داریم. ضابط امر خویش هستیم. به‌خودی خود به‌کار مملکت می‌ایستیم. وابسته، متکی و رعیت کسی نیستیم. در اداره‌امور کشور تصمیم‌گیر و اجباری هم در کار نیست. موارد فوق حد اعلی از آزادی است و توانسته است طریق نیل به کمال را برای ما تسهیل نماید. ان‌شاءالله و تعالی بزودی شاهد شگوفایی و توسعه مملکت در سایه آزادی و استقلال خواهیم بود.



# افغانانو ۱۰۴ کاله پخوا استقلال واخیست؛ خو نظام يې!؟

لیکنه: استاذ عظمت غزال

افغانان غیور خلک دي، کله چې د اسلام وړانګې د دوی ټاټوبي ته رالوېدلې دي، دوی هم د هغو وړانګو د رڼا پاتې کېدا او په نورو ځایونو کې د ځلېدا او خپرېدا لپاره ملاوې تړلې او له خپلو مجاهدو قائدینو سره تر سومنات، پاني پت او اصفهانه پورې تللي دي. او چا چې د دوی خاورې ته په کږه سترګه کتلي، نو بیا یې له هغو سره هم د تورو په میدان کې معلومه کړې ده. د سلطان محمود غزنوي لښکرې به چې هندوستان ته تللې نو همدا افغانان به همالته د کفارو په وړاندې ورسره جنګېدل. همداراز له شاه محمود هوتکي سره هم غیور افغانان اصفهان ته ورسېدل او له اوږدې کلابندۍ وروسته همدې مجاهدینو شاه حسین صفوي تسلیم کړ. همداشان له احمدشاه بابا علیه الرحمه سره خپل هېواد وال او د هندوستان پښتانه نوابان د پاني پت ډګر کې د مرهټیانو او نورو کافرانو خلاف په جهاد او غزا بوخت وو.

همداراز د یرغلګرو په وړاندې هم افغانان کلک درېدلي او سخته مقابله یې ورسره کړې ده او اشغالګر یې له هېواده شړلي دي. نور ټول یرغلونه خو پرېږدئ، یوازې د انګرېزانو دریم یرغل به یاد کړو. انګرېزانو له دریم یرغل وړاندې د افغانستان له پاچا امیرحبیب الله خان سره ژمنه کړې وه، چې لومړۍ نړیواله جګړه پای ته ورسېږي، نو مونږ به افغانستان ته په بهرنۍ سیاست کې خپلواکي ورکوو خو کله چې جګړه ختمه شوه، انګرېزان په کې بریالي شول، نو دوی هم خپلې ژمنې ته شا او له خپلواکي ورکولو یې انکار وکړ. دا مهال امیرحبیب الله خان وژل شوی و او د هغه زوی امان الله خان د افغانستان د تاج و تخت واکمن و، کله چې هغه انګرېزانو ته د دوی ژمنه وریاده کړه، نو هغوی بیا انکار وکړ. پاچا امان الله خان ولسونو ته مخه کړه چې له انګرېزڅخه استقلال اخیستل اړین دي، نو غیور ولس هم د خپلواکي ترلاسه کولو لپاره تیار چمتو ناست و او د علماؤ کرامو فتوی ته یې سترګې وې، چې هغوی د انګرېز خلاف د جهاد او غزا فتوی ورکړه، نو ټول ملت راپاڅېده، انګرېزان هم له دریو استقامتونو څخه مخ پر افغانستان راروان شول. د کندهار محاذ ته د سردار عبدالقدوس خان تر قیادت لاندې مجاهد ولسونه روان شول او له انګرېزي یرغلګرو سره یې پنجه واچوله، داسې یې وځغلول چې تر کوېټې پورې ټولې سیمې د فرنګ له واک او قدرته پاکې شوې او کبرجن غلیم یې د متارکې نارو ته اړ وېست، چې د دواړو دولتونو ترمنځ د اوربند خبر خپور او د افغانستان د خپلواکۍ او استقلال ډِپلوماتیک جریان شروع شو.

د هېواد په ختیځ کې هم د غیور او مېړني ملت داوطلب مجاهدین راجمع شول او د سپه سالار صالح محمد خان تر مشرتابه لاندې یې پر انګرېزي دښمن حملې پیل کړې، له جلال اباد څخه آن د پېښور تر څنډو پورې دښمن وځغلول شو. دارن غلیم یې داسې وارخطا کړ چې فرنګي نظامیانو او سیاسیونو د اسیا په ټولو مستعمرو کې افغانان د ځان لپاره ګواښ او خطر وګڼل! (الحمدلله) چې همدا افغانان د هند نیمه لویه وچه کې د لویې برېټانوي امپراتورۍ د زوال لامل جوړ شول او زمونږ له استقلاله (۲۸) کاله وروسته له هندوستان، بنګله دېش او پاکستان څخه انګرېزان ټیټې سترګې ووتل.

دریمه جبهه د پکتیا وه، د دې جبهې مجاهدین د سردار محمد نادر خان تر قوماندې لاندې د انګرېزي دښمن مخې ته د زمریو په څېر ور روان شول چې د دې مجاهدینو په لیکو کې په سلګونو علماء هم موجود وو. نادرخان هم د نظم او ډسپلین برابرولو لپاره دوې اوونۍ په ګردېز کې تم شو، بیا د ازادۍ اخیستلو نغاره ووهل شوه اوافغانان پر دښمن باندې د بازانو غوندې ور پرېوتل چې له دښمنه یې یو په بل پسې نظامي مرکزونه نیول او سرښندونکو مجاهدینو د لویې برېټانیا یرغلګر عسکر تر ټل او وانه پورې وځغلول، مخابراتي او مواصلاتي سیستم یې ورته وران ویجاړ کړ، نو مغرور دښمن د متارکې غوښتنه وکړه؛ متأسفانه چې د افغان دولت له لوري ورسره ومنل شوه.

انګرېزانو په دریو واړو محاذونو کې رسوا ماتې وخوړه، نو ځکه یې د متارکې او اوربند غوښتنه وکړه، څو افغانان له مزید پرمختګ څخه ایسار او ځوان پاچا د پلار نیکه په افغانستان باندې راضي کړي، په راولپنډۍ کې د سولې خبرې اترې پیل شوې، د افغان دولت له لوري د علي احمد خان تر مشرۍ لاندې یوه پلاوي او د انګرېز له خوا د سر ګرانټ تر قیادت لاندې یو هیئت ګډون په کې وکړ. یادو مذاکراتو څو ورځې دوام وکړ او د ۱۹۱۹ز اګسټ په ۱۸مه یو پینځمه ماده ییز تړون لاسلیک شو. ولې دا معاهده د افغانانو په زیان وه، وروسته د مونسوري مذاکرات او د کابل مذاکرات ترسره شول او د افغانستان په رسمیت پېژندل د انګرېزانو له لوري تصدیق شول.

افغانانو ډېر ځله دښمنان ځغلولي او بیا یې د خپلو دیني او ملي ارزښتونو مطابق نظامونه جوړ کړي، لکه صفویانو ته له ماتې ورکولو وروسته افغانانو خپلواک حکومت جوړ کړ، چې په اسلامي اساساتو برابر و. همداراز د ایرانیانو له خوا د نادر افشار له وژلو او افغانستان ته د افغانانو له راتګه پس د هېواد مشرانو لویه جرګه دایره کړه او د یو خپلواک اسلامي دولت بنسټ یې کېښود.

اما له انګرېزي یرغلګرو مو چې لومړی دوه ځله میدان یووړ، نتیجه یې دومره بده نه وه او دریم ځل چې انګرېز ماتې وخوړه نو ځوان پاچا امان الله خان څو سهوې او تېروتنې وکړې:

ـ د ټل، کوېټې او وانه له نیولو وروسته امان الله خان د متارکې غوښتنه ومنله، باید دا یې نه وای منلې. افغان مجاهدین او مبارزین یې پرېښې وای چې احمدشاهي ستړواکۍ یې جوړه کړې وای او د ډیورنډ کرښه یې له منځه وړې وای او همداشان د ګندومک تړون چې کومې خاورې د ګران هېواد له وجوده پرې کړې وې، هغه مو بېرته ورسره نښلولې وای، لوی افغانستان مو جوړ کړی وای؛ نو ډېر ولسونه به مو په دریمه افغان انګلیس جګړه کې له برېټانوي ښکیلاک او ښکیلاکګرو څخه ژغورلي وو. او هغوی به هم له مونږ سره یوځای له اسارته خلاص شوي وو.

د ډیورنډ منحوسه کرښه به د مسلمانانو ترمنځ خنډ او مانع نه وه، د مسلمانو هېوادونو توجه به د کافر دښمن په لوری وه. کشمیر به اوس دوې ټوټې نه و، چې یوه برخه یې ازاده او بله یې بالکل د هندوانو تر اسارت لاندې ښکیل ده.

د یعقوب خان (د ګندومک تړون) او د عبدالرحمن (د ډیورنډ تړون) چې کومې سیمې له افغان وطن څخه غوڅې کړې، د استقلال په غزا کې مونږ خپلولې شوې، ولې ځوان پاچا د پلار نیکه پر هېواد او خاوره بسنه وکړه!!

ځوان بې تجربې پاچا چې د ولس په ملاتړ استقلال ترلاسه کړ، نو په خپل هېواد کې یې د وطن له زېرمو او د دیني علماؤ له پوهې څخه ګټه وا نه خیستله لویدیځ ته یې له خپلې مېرمنې سره منډې کړې او شپږ میاشتې هلته ورک و، چې له هغه لوري یې ایله د لویدیځوالو دود، دستور او کلتور راووړ؛ هغه کلتور چې له افغاني ارزښتونو سره یې سمون نه خوړ. اقبال څه ښه وایي:

#شرع یورپ بی نزاع قیل و قال#
#بره راکرد است بر ګرګان حلال#

په پردي (کفري) کلتور او بې ستري باندې پرمختګ نه راځي، د دې رمز او راز په اسلامي اصولو، قوانینو او احکامو کې نغښتی دی. په سیکولریزم او جمهوریت کې ښادي، خوښي او سوکالي نشته.

#ګریز از طرز جمهوری غلام پخته کار شو#
#که از مغز دو صد خر فکر انسانی نمی آید#

افغانانو استقلال او خپلواکي له انګرېزانو د توري په زور واخیستله، لازمه وه چې هغه مو د اسلامي نظام تر سیوري لاندې ساتلې وای، ولې متأسفانه هغه ځوان پاچا د خپلې مېرمنې او خُسر په غوښتنه او خوښه په لغته ووهل، چې د دوی خوسا افکار وروسته په نورو روڼ آندو (تورزړیو) کې بیا بیا راوټوکېدل او دوه ځله یې هېواد له کفارو سره ګرو کړ (نه یو ځل یې په شورویانو بل وار په صلیبیانو خرڅ کړ). دشل کلن اشغال د مهال هغه پردي غلامان اوس هم د جمهوریت غوښتنه کوي، نو د استقلال له غزا وروسته ځوان پاچا امان الله خان خپل ټاټوبی د سیکولریزم ګړنګ ته وردیکه کولو! ولې دده بیګانه کفري افکار مسلمان ملت رد کړل ●

# د اسلام او دیموکراسی تضاد

**د دیموکراسي اصول:**

اساس او اصول د دیموکراسي څلور دي

۱: قانون باید زمیني وي، هیڅ اسماني قانون دموکراسي کې د منلو نه دی.

۲ مطلق معیار وجود نه لري، مطلق اخلاق وجود نه لري، یعني تاته لباس اغوستل اخلاق دي، خو ماته بې لباسي، نو زه او ته یو چې اخلاق تعینو

۳ انتخابات: انتخاباتو کې اکثریت د رأیو ته اعتبار دی، عالم اوغیر عالم یا رقاص هیڅ فرق نه لری،بلکې ټول برابر دي او یوه رایه لري

۴ ازادي: دموکراسي کې داسې ازادي ده چې مشخص چوکاټ نه لري، یعني دموکراسي کې ټول خلک ازاد دي چې هرڅه یې کول مثلا یو څوک کولای شي چې پیغمبر«ص» باندې(نعوذ بالله من ذالک) انتقاد وکړي کولی شي چې کارتون جوړ کړي لکه امریکا کې چې جوړیږي ځکه دوی وایې چې موږ دا حق لرو موږ ته دا حق دموکراسي راکړی

ایا اسلام دموکراسي سره ارتباط لري که نه؟

اول: دموکراسي کې قانون زمیني دی، او اسلام کې آسماني دي، نو په اول اصل کې ورسره تضاد لري

دوهم: په دیموکراسي کې مطلق اخلاق نشته، اما په اسلام کې مطلق اخلاق شته، چې قرآن او سنت موږ ته تعین کړي دي قرآن عظیم الشان ویلي، زنا کول، غلا کول او ناوړه اعمال نور حرام دي نو په همدې خاطر دا اصل هم له اسلام سره په تضاد کې دی

دریم: دریم اصل انتخابات دې، یو استاد پوهنتون کې تعین کیږي نو کله چې دا استاد ځان کاندید کړي او استاد شي، نو یوه لویه علمي شورا د علماؤ دا تأید کوي اما که صندوق په یو چوکې کیږدو، چې موږ استاد د پوهنتون مقرر کو تاسو رایه ورکړی نو دا خلک څه پوهیږي چې نوموړی مشخص د استادي اهلیت لري، که نه؟ همدارنګه کله چې د یو هیواد رهبر(رئس جمهور) تعینیږي نو باید یوه لویه شورایې تعین کړي او خلکو ته یې وړاندې کړي او هغوی له دې معتمدې شورا سره بیعت وکړي، نو دا اصل هم له اسلام سره په تضاد کې شو

څلورم: آزادي _ آزادي د اسلام په یو چوکاټ کې ده، په یو اخلاقي چوکاټ کې مثلا زه ازاد یم چې آزاد وګرځم اما دا حق نلرم چې د یوچا ابرو او عزت له منځه یوسم، زه آزاد یم، اما حق نه لرم چې د خپلې آزادي په وجه تاته توهین وکړم خو په دموکراسي کې چې هرڅه دې زړه غوښتل کولی ي

دموکراسي کاملا ازادي ده هرڅه پکې کېدای شي یو انسان کولی شي سهار یهودي او دشپې نصراني هندو او بودایې شي او داسې نور...

له همدې امله په دې څلورو اساسي اصولو کې دموکراسي له اسلام سره تضاد لري نو هرڅه روښانه دي هیڅ مسلمان یې باید پیروي ونه کړي

# ولي احمد شاه بابا ته ددرانـــي، سدوزي او ابـدالي لقبونه کارول کېږي؟

**لیکنه: ډاکتر یاد - بیاکتنه او سمونه: خالد روښان**



د دې وجه داده چې سدوزي لـه آره سـربني پښتانه دي او د پوپلزیـو د قبیلـې یـوه څانګـه ګڼل کېـږي. ددغـې قبیلـې مـورث اعلی یـا ستر نیکـه اسدالله خـان و، چې پـه ۹٦٥ لمریز کال زېږېدلـی او پـه ۱۰۲۱ لمریـز کال یـې لـه دې نـړۍ نـه سـترګې پټـې کـړي دي۰ نومـوړی پـه عوامـو کـې پـه ملک سـدو مشـهور و او د ده د نامـه لـه املـه دغـه قبیلـه پـه سـدوزیو سـره مشـهوره شـوه. سـدوزي د پوپلزیـو د قبیلـې یـوه څانګـه ده۰ سـدوزیان تـر ډېـره وختـه پـورې نـه یـوازې د پوپلزیـو د قبیلـې، بلکـې د درانیـو د ټولـې قبیلـې خانـان او مشـران شـمېرل کېـدل او جوتـه ده چې سـدوزیان د رانـي قبیلـو پـه ټولـو څانګـو کـې د ځانګـړي درنـاوي نـه برخمنـه قبیلـه ګڼلـه کېدلـه، داځکـه چـې د افغانسـتان بنسـټ اېښـودونکی او واکمـن لـوی احمـد شـاه بابـا علیـه الرحمـه د سـدوزي پـه ټبـر پـورې اړه درلودله، چې پـه اصـل کـې دغـه قبیلـه دپوپلزیـو د قبیلـې یـوه څانګـه ده۰

ملـک سـدو یـو ډېـر پـوه او هـو ښـیار سـړی و، چـې د خپـل قـوم لپـاره یـې ډېـر خدمتونـه وکـړل او پـه پـای کـې د خپـل عمـر پـه ۷٥ کلنـۍ کـې یـې لـه دې فانـي نـړۍ نـه سـترګې پټـې کـړې. د ملـک سـدو نـه پنځـه زامـن پاتـې شـول چـې خواجـه خضـر خـان، مـودود خـان، زعفـران خـان، کامـران خـان او بهادرخـان نومېـدل.

**د احمد شـاه بابـا ابدالي لقب :**

دابـدال پـه هکلـه زیـات افسـانوي روایتونـه هـم شـته چـې دلتـه بـه یـې راوړل بېځایـه نـه وي۰روایتونـه وایـي چـې د اسـلامي دورې پـه تاریـخ کـې لومړنـی سـړی چـې د(ابدال=اودل)پـه نامـه یـاد شـوی دی دپښـتني قبیلـو مشـهور نیکـه دی چـې د خپـل نامتـو کهـول سـره د سـلیمان پـه غـره کـې او سـېده۰دی د تریـن زوی د شـر خبـون لمسـی او د سـړبن کړوسـی دی او د ده نـوم پـه پښـتو ادبیاتـو او پخوانیـو او زړو نسـخو کـې (اودل) او د جمـع منسـوب پـه بڼـه (اودلی=ابدالـی) ضبـط دی چـې د ٤٤٠ هجـري یـا ۱۰٤۸ میـلادي کلونـو پـه شـا او خـوا کـې یـې پښـتانه قبایـل پـر ځـان راټـول کـړي وو او د ده لـه توکمـه ملـک سـلیمان د عیسـی زوی چـې پـه زیـرک سـره مشـهور و د خپـل ژ ونـد پـه پـای کـې یـې خپـل زوی ملـک بـارک پـر مشـرۍ وټاکـه او تـر بـارک وروسـته د زیـرک بـل زوی ملـک پوپـل د خپـل نفـوذ سـاحه د اوسـني بلوچسـتان تـر شـال او ژوبـه وغزولـه او د٦٥ کالـو تـر مشـر تـوب وروسـته د ۸۹ کلونـو پـه عمـر ومـړ۰ داسـې روایتونـه هـم شـته چـې پـه پیـل کـې ابـدال بـل نـوم درلـود، خـو کلـه چـې د خواجـه احمـد ابـدال چشـتي حضـور تـه چـې د خپـل وخـت مشـهور پیـر او سـتانه و ورغـی او د هغـه خدمـت تـه یـې مـلا وتړلـه هغـه ورتـه د ابـدال نـوم او لقـب ورکـړ چـې لـه هغـې راهیسـې پـه دغـه نـوم مشـهور او اولاده یـې د ابدالیانـو پـه نامـه یادېـږي او پښـتانه پـه خپلـې ورځنـۍ محـاوره کـې ابـدال د اودل پـه نامـه هـم یادوي.داسـې روایـت هـم شـته هغـه وخـت چـې د ابـدال د پـلار تریـن د مړینـې وخـت را نـږدې شـو نـو ویـې غـو ښـتل چـې د خپلـو دریـو زامنـو یعنـې ابـدال، سـپین او تـور نـه یـو تـن پـر خپـل ځـای د مشـرۍ لپـاره و ټاکـي چـې د تـور او سـپین د خپګان سـره سـره یـې ابـدال د مشـرۍ لپـاره مناسـب او وړ وبالـه۰ پښـتانه د تاریـخ پـه رڼاکـې اثـر لیکلـي دي چـې ابـدال یـا اودل د ٤۲۰ هجـري کلونـو پـه شـا او خـوا کـې ژونـد کاوه۰ ویـل کېـږي چـې د ابـدال تـر مړینـې وروسـته رځـړ د خپلـې کورنـۍ مشـر شـو او ده دخپلـو نـورو زامنـو خپـل مشـر زوی عیسـی پـه خپـل ځـای وټاکـه۰ د عیسـی د زامنـو نـه سـلیمان لـه ټولـو پـوه او هوښـیارو نـو ځکـه دی پـه ځیـرک یـا زیـرک مشـهور شـو چـې تـر اوسـه هـم پښـتانه هـو ښـیار سـړي تـه ځیـرک وایـي، کـه څـه هـم عیسـی د میـرک پـه نامـه مشـر زوی درلـود ،خـو سـلیمان یـې د هـو ښـیارۍ پـه وجـه پـه خپـل ځـای وټاکـه۰د زیـرک پـه څلـورو زامنـو کـې مشـر بـارک نومېـده چـې پـلار یـې دی د کورنـۍ مشـر ټـا کلـی و، خـو تـر څـه مـو دې وروسـته مشـري د پوپـل لا سـته ورغلـه۰ لـوی ابدالـي احمدشـاه بابـا چـې د پـو پلزیـو د سـدوزیو پـه څانګـې پـورې یـې اړه درلـوده د ابـدال نیکـه پـه وجـه د ابدالـي لقـب غـوره کـړ او د۱ ۷٤۷ میـلادي نـه تـر ۱۷۷۳ میـلادي پـورې یـې یـوه لویـه امپراتـوري جـوړه کـړه چـې بـه تـا ریـخ کـې د درانیانـو د امپراتـورۍ او یـا دDurani Empireپـه نامـه سـره شـهرت لـري چـې د ایـران د خـاورې، اوسـنی پـا کسـتان او هنـد ډېـرې سـیمې او کشـمیر د ده تـر ولکـې لا نـدې وو۰

**د احمد شـاه بابا دراني لقب :**

ویـل کېـږي چـې احمـد شـاه بابـا د خپـل نامتـو پیـر میـا عمـر څمکنـي (رح) چـې ده ورتـه زیـات ارادت او درنـاوی درلـود د خـوب لیدلـو پـه نتیجـه کـې پـه کال ۱۷٤۷ میـلادي کال کـې لـه خپـل نامـه سـره د درانـي لقـب غـوره کـړ. پـه تاریـخ حیـات افغانـي کـې راغلـي دي کلـه چـې ابدالـي احمـد شـاه بابـا د افغانسـتان ټولـواک شـو نـو پـه دغـه وخـت کـې صابـر شـاه چـې یـو فقیـر او ملنـګ و او احمـد شـاه بابـا ورتـه ډېـر اخـلاص درلـود ده تـه وویـل چـې بایـد د ( در دران ) لقـب غـوره کـړي چـې معنـی یـې د ( ګوهرونـو ګوهـر) دی چـې لـه دغـې ورځـې راهیسـې ابدالیـان د درانیانـو پـه نامـه سـره یادېـږي.

همـدا راز د فارسـي ژبـې پـه تاریخـي منابعـو کـې راغلي، چـې احمدشـاه بابـا تـه ځکـه دراني ویـل کېـږي چـې د درانیانـو د قبیلـي خلکـو بـه پـه پخوانیـو وختونـو کـې پخپلـو غوږونـو کـې د ملغلـرو کړۍ(حلقـې) اچولـې نـو ځکـه ورتـه درانیـان ویـل کېـدل چـې دا وروسـتی روایـت یـو کمـزوری روایـت ګڼـل شـوی دی.

# بیش از ۵۰ هزار جواز کار درسطح کشور ...

در زمینـه های ایجاد فرصـت های شـغلی، و تامین اجتماعی در سـطح کشـور فعالیت دارد تا اهداف کاری خـود را مطابق با سیاسـت های امارت اسـلامی افغانسـتان و در پرتو قوانین و مقررات نافذه کشـور با ارائه خدمات ارزنـده در جهت ارتقای سـطح زندگی اجتماعی، بر اساس اسـتانداردهای داخلی و بین المللی برای افزایش سـطح رفاه سازماندهی و اجرا کنند.

وزارت کار و امور اجتماعی در سال ۱۴۰۱ از طریق مراکز آموزش فنی و حرفه ای در همکاری موسسات همکار به ٤٣٧٧٤ نفر در مرکز و ولایات آموزش فنی و حرفه ای داده، هم‌چنان در سـطح افغانسـتان به تعداد ٥٣٦٥٥ واحد جواز کار برای اتباع داخلی و خارجی توزیع کرده است.

وزارت کار و امـور اجتماعی از طریق یتیـم خانه های دولتی و خصوصی در مرکز و ولایات به ۸۵۷۹ کودک بی سرپرست پسر و دختر خدمات رسـانی کرده اسـت و بیش از ۵۰۰۰ کودک از طریق کودکسـتان های محل کار و محل زیست در سراسر کشور آموزش دیده اند. دسـتاوردهای مهم (جزئیـات)؛ ارائه آموزش فنی و حرفـه ای برای ٤٣٧٧٤ تن در مرکـز و ولایات از طریق مراکـز آموزش فنـی و حرفه ای دولتی و موسسـات همکار؛ در سـطح کشـور به تعداد (٥٢١٢١) جواز کارتوزیع شـده است، توزیع ١٥٣٤ مجوز کار بین اتباع خارجی در سـطح کشور، ثبت و توزیع مجوزهـای آموزش فنی و حرفه ای مراکز و مؤسسـات خصوصی، بررسی مدارک و نظارت بر روند آموزش.

بـه منظور افزایش سـطح عواید و قانونی نمـودن اقدامات اتباع خارجی، نظـارت، کنترل و اعطای دسـتورالعمل های مشـابه بـه ٥٩ مؤسسـه دولتی، خصوصـی و تولیدی مطابـق قوانین و مقررات امارت اسلامی افغانستان؛ برگزاری ۸ جلسه کاری برای کارکنـان نمایندگی های دولتی و غیـر دولتی(کارمند و کارفرما) در خصوص تفاوت های ناشـی از کار و نمونه فرم های حوادث ناشـی از کار، کارت گواهی نامه آموزش تکنیک ایمن و ارسـال کتاب دستورالعمل ایمنی به ۳۰ موسسه؛

وزارت کار و امور اجتماعی کار مقدماتی را در خصوص اشتغال فعلی در داخل کشـور و اعزام کارگران به خارج از کشـور آغاز کرده و در این زمینه ها به کشـورهای؛ ایـران، ترکیه و قطر برای پیگیـری از طریق مجـاری دیپلماتیک بحث و تبادل نظر شـده اسـت. کارگران ماهر و نیمه ماهر افغان به این کشـورها در آینده عزام خواهد شد.

کار بر روی میکانیسـم هماهنگی بین دولت و بخش خصوصی؛ افتتـاح مرکز آموزش فنی و حرفـه ای و در پنج حرفه به ٥٣٠ تن افـراد معتاد بهبود یافته از مواد مخدر ارائه آموزش صورت گرفته اسـت. پس از چندین سال با تشکیل شورای اجرایی با سرپرست وزارت کار و امـور اجتماعی و با مشـارکت شـرکای اجتماعی، جلسـات مقدماتی برای رفع بیکاری و ایجاد فرصت های شغلی تشـکیل شـد. ارائه مشـاوره حقوقی برای ٣٠٦ تن به کارمندان دولتـی و غیردولتی به صـورت کتبی و شـفاهی. در ١٥ ولایت کشور، ١٥٣٢ تن کارمند تازه انتصابی، به ویژه مجاهدین، برنامه آگاهی عمومی و ظرفیت سازی راه اندازی شده است.

روابـط اجتماعی؛ ارائه خدمات بـه ٨٥٧٩ تن کودک یتیم دختر و پسـر در مرکـز و ولایات از طریـق یتیم خانه هـای دولتی و خصوصی. شـبکه های دوامدار حمایت از کـودکان در کابل و ولایات کشـور. جلسات (CPAN) برگزار شد. در سطح مرکزی و ولایـات٢١٧٦٢ تن کودکی که در معرض خطر قرار داشـتند، از پرونـده های آنها حمایت صورت گرفـت ایجاد هماهنگی با مراجع ذیربط در خصوص الحاق اطفال مختلف و یکجا شـده با خانواده و بسـتگان خود و همچنـان در پی این روند، ٢٨٦٠ تن کودک بی سرپرست در مرکز و ولایات با خانواده های خود ادغام شـدند. با توجه به نیازهای جدی حمایت از کودکان، ایجاد ٣١ مرکـز حمایتی در ١١ ولایت با تمویل وزارت و نهادهای همکار. ایجاد مرکز حمایتی مجـزا برای دختران معلول و کم توان ذهنی.

به دسـتور رهبر امارت اسلامی افغانسـتان امیرالمومنین مولوی هبت الله آخوندزاده(حفظ اللـه) کمیته جمع آوری متکدیان که وزارت کار و امـور اجتماعـی نیز در آن عضویـت دارد، در این راسـتا کمیته مسـئول ١٨٧٧٧تن کودک را جمـع آوری کرد که از ایـن تعداد ٧٢١٠ تن کـودک برای تحقیق و توان بخشـی به هلال احمر معرفی شـدند، ١١٤٩٦ تن کودک به عنوان متکدیان حرفـه ای و ٧١ تـن کودک بی سرپرسـت توسـط وزارت کار و امور اجتماعی به یتیم خانه ها فرسـتاده شـده‌اند. بنا به دسـتور وزیر کار و امور اجتماعی اولین جلسـه حوزه تامین اجتماعی با حضورمراجع ذیربط برگزار شـد، این جلسات به صورت مستمر در ولایات ها نیز برگزار می شود.

دربخش های مختلف؛ بر اساس تشریفات سازماندهی و تعدیل امور و فعالیتهای نهادهـای داخلی و خارجی، برای آموزش فنی و حرفـه ای، مراقبت و تربیت کودکان، حمایت از یتیم خانه ها، خانواده های فقیر، زنان و کودکان تحت تکفل و خود سرپرسـت ٧٩ قرارداد منعقد شـده است. در زمینه‌های حمایت، کمک‌های بشردوسـتانه، ادغام مجدد کودکانی کـه قانون را نقض کرده و با خانواده‌هایشـان دوباره تحویل داده شـده‌اند، تامین اجتماعی و ایجاد مشـاغل کوچک برای خانواده‌ها امضا شـد. این پروژه ها شامل افغانستان می شود و در مجموع ٣/٩ میلیون افغان از آنها بهره مند خواهند شد. نظارت بر رعایت قوانین و مقررات مربوط به کار در برخی از سـازمان های دولتی و موسسات خصوصی؛ در مرکز و واحدهای متوسـطه این وزارتخانـه، آموزش دینی به کارکنان و مجاهدین در حوزه های ترجمه حدیث شـریف و قرآن کریـم؛ اجرای برنامه های آموزشـی در ١٠ عنوان برای ٣٥٠ تن کارمند ادارات کار و امور اجتماعی در ١٠ ولایت.

اجرای برنامـه تعدیل و هماهنگی کار برای ریاسـت‌های کار و امور اجتماعی ٣٣ ولایت و استماع پیشنهادات، درخواست ها و ایده های آنان در این زمینـه و نیز همکاری با آنان در زمینه های توسـعه و ارائه خدمات مطلوب و به اشتراک گذاری لازم. توصیه ها؛ یک سیسـتم الکترونیکی برای املاک وجایدادها ایجاد شده است. سیسـتم الکترونیکی ثبت وام و اعتبارات وزارتخانه ایجاد شـد. بانک اطلاعاتی از توافقات با نهادها برای ریاسـت روابط خارجی ایجاد شده است.

دربرنامه های کلان سـالانه؛ برگزاری همایـش ملی کارگری در سـطح کشـور؛ ارائه آموزش فنی و حرفه ای به ١٠٢٠٠ نفر در موسسـات دولتی و ٣٠٠٠ نفر در موسسـات خصوصی با توجه به نیاز بازار کار در سراسـر کشـور گردآوری داده ها و اطلاعات مطالعه بـازار کار از بخش های اقتصـادی، صنعتی و اجتماعی در مرکز کشور و ٧ منطقه. تسـهیل انتقال کارگران ماهر افغان به خارج از کشـور برای کاهش بیکاری و رشد اقتصادی در کشور. تا اکنون ٢٠٠٠ تن معتاد به مواد مخدر بهبود یافته و برای‌شـان در شـهر کابل آموزش های فنی و مسـلکی ارائه می شود. جواز کاربـرای ٢٠٠٠٠تن در مرکـز و ٢١٨٦٠ تـن در ولایات بین کارمندان امارت اسـلامی افغانسـتان و موسسـات خارجی به صورت سـازماندهی شـده و الکترونیکی توزیع شـده اسـت. فراهم کردن زمینه سـاخت و ادغام ده مرکز خدمات اسـتخدام خصوصی. تدوین، نظارت و بررسـی قوانیـن، مقررات و رویه هـای مربوط به کار و ارائه ٣٤٠ مشـاوره حقوقی در این زمینه و راه اندازی ١٠ برنامه زبان شناسـی. تهیه فهرسـت مشاغل مضر برای سلامتی و اجرای آنها بر اساس مقررات در آینده. نظارت بر اجرا و رعایت اسـناد حقوقی کار در ٦ نهاد دولتی و ٢٤ موسسه خصوصی. از طریق انسـتیتوت کار و امور اجتماعی که به تازگی در چارچوب این وزارت ایجاد شده است، ٨ برنامه آگاهی دهی در مورد اسـناد حقوقی مربوط بـه کار در مرکز و ولایات و یک برنامه آموزشـی برای ٢٠ شغل و مهارت راه اندازی شده است.

دربخش روابط اجتماعی؛ پشـتیبانی و توسعه مستمر ٢٢٠ شبکه حمایـت از کودکان؛ حمایت از ١٠٠ کودک در مراکز نگهداری؛ ایجاد بانـک اطلاعاتی بـرای آمار و ارقام مربوطـه وزارت کار و امـور اجتماعی؛ حمایـت از ٢٠٠٠٠ فرد و خانـواده فقیر و نیازمند. تشـکیل ١٥٠ انجمن اجتماعی تحقیق برای کودکان در مراکز اصلاح و تربیـت نوجوانان و انجام مصاحبـه با آنها. زیر چتـر وزارت، در مرکـز و ولایات، بیـش از ١٠٠٠٠ تن کودک سـاکن در یتیم خانه ها محافظت، آموزش و مراقبت می شـوند. نظارت و پشـتیبانی از کلیه موسسات اماراتی و خصوصی.

**بخش های متفرقه؛** اعمار دو مسـجد در مرکز وزارت و ریاست منابع بشـری. ایجـاد سیسـتم الکترونیکـی (E-Tracking) اسـناد؛ الکترونیکی شدن پروسـه توزیع جواز کار به شهروندان داخلی در مرکز و ولایات. تهیه آرشیف الکترونیکی برای ریاست منابع انسـانی در سطح کشـور. راه اندازی خدمات وب سایت آسان وظیفه؛

امضـای قراردادهـا و پروتکل‌ها با نهادهـای داخلی و خارجی بر حسـب نیاز و نظـارت بر فعالیت‌های مؤسسـات بـرای حصـول اطمینان از اجـرای هرچه بهتـر موافقت‌نامه‌ها. ایجـاد بانـک اطلاعاتـی جامع بـرای بخش تامیـن اجتماعی در سـطح کشـور. تشـکیل کمیته ای از داوطلبان اجتماعی در سـطح کشـور. ایجاد چنیـن رویـه ای همراه بـا وزارت کار و امور اجتماعی که بر اسـاس آن سـلامت معتـادان جمع آوری شـده در مراکز، ارزیابی مدت اقامـت، برنامه های آموزش فنی و حرفـه ای و سرنوشـت بهبـود یافتـگان.

**توفیـق**

## شعر و ادب

## استقلال!

**تپاندزهاد**

په غاړه د هیواد ځانګي سپین شال د استقلال

د سوبو او بریاؤ ډک دسمال د استقلال

بیا څرک د امن خور دی تروږمیو کډه کړې

ختلی پر هیواد دی سپین هلال د استقلال

د امن فرشتې الله راویستې زموږ تر کلي

اذان د ازادۍ کوي بلال د استقلال

ټاټوبی د ننګونو یې ښکلا ښکلا وطنه

ډیر خوږ لګي پر موږ نری شمال د استقلال

الله د خپلواکۍ په ستر نعمت ونازولې

الله در کړی تاته لوړ کمال د استقلال

اتله د اُمت د سترګو تور یې طالب جانه

دا ستا له برکت د فتحو کال د استقلال

تپاند زُهاد سپین پاج د ازادۍ په سر ترمه

خالق کړ را په برخه استقلال د استقلال

## ښکلي وطن!

**انتظارښرنوال**

شرمېږي هم نه بیا را پورته کړي ناره د وطن
چا به یي خاوره خرڅوله، چا جنډه د وطن

وطن به خوږ وي، خو قسم که له ایمانه خوږ وي
تاسو لوستلې ده، غلطه فلسفه د وطن

ورسره یو خوا بل خوا ګرځوي لاسونه ګوره
دا ده ترننه یې ساتلې مړه ډېوه د وطن

زموږ سرونه پیدا شوي د همدې لپاره
اول له دینه دي قربان بیا نذرانه د وطن

راشه په غاړه یې لاس واچوه د ښکلي وطن
څوک له پردي وطنه پالي یارانه د وطن؟

اوس هم حیران دي انتظاره چې ژوندی څنګه دی؟
چا چې په خپلو اوږو وړې جنازه د وطن

# د خپل ځان لپاره له الله تعالی څخه د ښې پایلې غوښتونکی شه!

**ژباړه او زیاتونه: حمادافغان شیرزاد**

دنیا دارالامتحان او د ازمویني ځای دی او الله تعالی دلته هر بنده پر خپل عبادت مکلف کړی دی، د ښې او بدې لارې ښودنه یې ورته کړې، تر څو معلومه شي چې انسان د خپل ځان لپاره د کومې لارې انتخاب کوي او په کومه لار ثابت پاتې کیږي، هغوی چې پر ښه لاره لاړ شي، غرور او تکبر ونه کړي الله تعالی یې پای هم ښه کوي او یو څوک چې پر خپل عمل غرور او تکبر کوي؛ نو بیا یې الله تعالی د ګمراهۍ طرفته بیایي او د بدې پایلې انسان یې جوړوي.

لاندې چې کومه کیسه ده د عبرت لپاره یې ولولئ او پند ترینه واخلئ، د شلمې پیړۍ د دوه برجسته اشخاصو چې یو یې کافر او بل یې غښتلی مسلمان و، خو د دواړو پایله بدله او د دنیا لپاره یو عبرت وګرځیدل.

په انځور کې ښي خوا ته سړی جوزف ایسټس نومیږي چې د امریکا دی، هغه خپل مسلک د یو سوداګر په توګه پیل کړ، چې یو متعصب عیسوي او د مسلمانانو په اړه یې په هر شي کې طنز او تمسخر کاوه، تر دې چې نوموړي به نعوذبالله د مسلمانانو د قبلې په اړه تمسخرا ویل چې مسلمانان په بیابان کې د یو پروت تش صندوق او بکس عبادت کوي.

او بل طرفته په انځور کې چپ اړخ ته سړی د حرمینو له ځمکې څخه عبدالله القصیمي دی، نوموړی په پیل کې یو غښتلی مبلغ او د اسلام د لارې داعي و، تر دې چې هغه ته د دوهم ابن تیمیه لقب ورکړل شو، نوموړي یو مشهور کتاب «الصراع بین الاسلام والوثنیة» د اسلام او کفر تر مینځ ټکر او یا جګړه ولیکلو، چې دغه کتاب د پوهانو تر منځ ډېر شهرت وموند، د کتاب شهرت دومره وو چې په هغه وخت کې د مکې حرم امام په دې اړه یو بشپړ شعر ولیکلو، مشهور دیني عالم صلاح منجد پخپلو لیکنو کې یادونه کړې چې ځیني علماء د یاد کتاب په اړه وايي: چې قصیمي دا کتاب داسې لیکلی، ګواکې نوموړي د یاد کتاب په لیکلو سره د جنت مهر ادا کړی دی.

همدا راز نوموړی یو اوچت او غښتلی سلفي عالم او لیکوال و، چې په عربي نړۍ کې د یو مفکر په نوم یې شهرت وموند، لسګونه کتابونه یې لیکلي او چاپ شوي، چې تر ننه ترینه خلک ګټه پورته کوي.

